

# دغيرې رسمي عدالت په وړاندې پرتې ستونزې او د هغوې حل لار

Ketabton.com

ليکوال : زبير اسحاقزی

کـــال : ........................................................................................(۱۴۴۵هـ،ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**نحمده ونصلی علی رسوله النبی الکریم محمد واله واصحابه اجمعین اما بعد:**

دا چې انسان ټولنیزمخلوق دی، په یوازې ځان نشي کولای، چې د ژوند ټولې اړتیاوې او ضرورتونه پوره کړي؛ نو مجبور دی، چې د ژوند د تېرولو او خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له نورو انسانانو سره بېلا بېلې اړیکې ولري او د ورځني ژوند د اړتیاوو د پوره کولو او د یو بل سره د مرستې لپاره په ګډه کار او ټولنیز ژوند وکړي؛ دا چې ټولنیز ژوند د خپل جوړښت او طبعیت له مخې ځېنې ستونزې او پیچده ګۍ لري؛ نو بناءً له انسان نه ختمي تجاوز شوی او کېږي؛ نو همدا وجه ده، چې نن سبا په ټولنو کې د انسانانو ترمنځ راز راز مشکلات او منازغات موجود دي او رامنځ ته کېږي؛ لکه: کورني، سوداګیریز، قومي، نژادي، ژبني، سمتي او داسې نور.

نو د انسانانو ترمنځ د ټولنیز ژوند څخه راپیدا شویو منازغاتو او ستونزو د حل لپاره په ټولنو کې په ځانګړي ډول په افغانی ټولنه کې رسمي او غیر رسمي عدالتونه شتون لري؛ چې ځیني خلک د دوی ترمنځ رامنځ ته شویو مشکلاتو او منازغاتو د حل لپاره رسمي او ځیني خلک غیر رسمي عدالت ته مراجعه کوي او خپل منازغات د ذکر شویو عدالتونو له مخې حل او فصل کوي، دا چې زمونږ په ټولنه کې د غیر رسمي عدالت په اساس اکثره منازغات او مسائل حل شوې او حل کېږي؛ نو له همدې امله په غیر رسمي عدالت پوهېدل یو ضروري عمل دی؛ دا چې زما د لیکنې موضوع (په لغمان کې د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حلارې) ده؛ بناءً په دې لیکنه کې به د غیر رسمي عدالت په اړه مهم او ضروري مسائل اوموضوعات(د غیر رسمي عدالت پېژندنه، د غیر رسمي عدالت اړوند هغه کارونه چې د خلکو ترمنځ منازغات پرې حل کېږي، د غیر رسمي عدالت ګټې او زیانونه او د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حل لارې) په تفصیل سره تربحث لاندې ونېول شي.

**د موضوع اهمیت:** هرکله چې یوه موضوع نسبتاً نوې او لیکنه یې د ټولنې د حالاتو او موجوده وخت غوښتنه وي؛ نوهغه موضوع د ډېر اهمیت څخه برخمنه وي او لیکنه یې ټولنې ته ډېره ګټوره او مفیده تمامېږي؛ لهذا نوموړې موضوع هم د ډېر اهمیت څخه برخمنه ده؛ ځکه چې نوموړې موضوع زمونږ د ټولنې د اوسنیو حالاتو او موجوده وخت سره مطابقت لري؛ همدارنګه په نوموړې موضوع باندې زما د معلوماتو په اساس داسې یوه منظمه او هر اړخېزه لیکنه نه دی شوې؛ چې د ټولنې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ووایي؛ بناءً د نوموړې موضوع اهمیت ته په کتو سره ضروري دی، چې په نوموړې موضوع باندې یوه منظمه او هر اړخېزه علمي لیکنه وکړم، تر څو را ترغاړې مسؤلیت مې په ښه ډول اداء کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع د انتخاب لاملونه:** دا ښکاره خبره ده؛ چې د موضوع اهمیت د موضوع په انتخاب کې ډېر لري؛ یعنې څومره چې د یوې موضوع اهمیت زیات وي، همغومره یې د لیکلو لېوالتیا هم زیاته وي؛ لهذا لکه څرنګه چې د موضوع په اهمیت کې ذکر شول؛ چې نوموړې زمونږ د ټولنې د اوسنیو حالاتو او حاضر وخت د تقضاء او غوښتنې پر اساس د ډېر اهمیت څخه برخمنه ده؛ بناءً ځکه کې مې نوموړې موضوع د لیکنې لپاره انتخاب کړه.

**تېرو لیکنو ته کتنه:** په دې لیکنه کې ما تر خپله وسه موضوعات د قیقې، ژورې مطالعې او څېړنې څخه وروسته د معتبرو منابعو څخه راټول کړي؛ همدارنګه د دې موضوع اړوند مې د دیني او عصري علماوو، محورو اوباتجربه سپین ګېرو او قومي مشرانو سره مرکې کړي او د هغو د معلوماتو او نظرونو څخه مې هم د دې موضوع په لیکنه کې استفاده کړې او همدارنګه ځېنې موضوعات مې د خپل لیدلورې له مخې هم تحلیل کړي دي.

**مطرح شوې پوښتنې:** په دې لیکنه کې ډېرو اړینو پوښتنو ته ځوابونه راټول شوي او پیدا شوي دي؛ چې یو څو مهمو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو:

۱ـ غیر رسمي عدالت څه ته وايي او زمونږ په ټولنه کې څومره ارزښت او اهمیت لري؟

۲ـ غیر رسمي عدالت د چا لخوا په څه ډول ترسره کېږي؛ ګټې او زیانونه یې څه دي؟

۳ـ زمونږ په ټولنه کې د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او د هغو حل لارې څه دي؟

**مطرح شوې پوښتنې:** د دې موضوع د معلوماتو د راټولو او څېړلو څخه وروسته مې نوموړې موضوع په دوو فصلونو کې تر بحث لاندې نېولې؛ په لومړي فصل کې مې د غیر رسمي عدالت په اړه عمومي معلومات، لکه: د غیر رسمي عدالت پېژندنه، د غیر رسمي عدالت په چوکاټ کې هغه کارونه چې د خلکو ترمنځ منازعات پرې حل شوي او حل کېږي تر بحث لاندې نېولي؛ په دویم مبحث کې مې د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حل لارې او د غیر رسمي عدالت ګټې او زیانونه تر بحث لاندې نېولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د غير رسمي عدالت په هکله عمومي معلومات

دا چې انسانانو ترمنځ د ټولنيز ژوند څخه راپيدا شويو منازغاتو او ستونزو د حل لپاره په ټولنو کې په ځانګړي ډول په افغانی ټولنه کې رسمي او غير رسمي عدالتونه شتون لري؛ چې ځيني خلک د دوی ترمنځ رامنځ ته شويو اختلافاتو او منازغاتو د حل لپاره رسمي او ځيني خلک غير رسمي عدالت ته مراجعه کوي او خپل منازغات د ذکر شويو عدالتونو له مخې حل او فصل کوي؛ دا چې زمونږ په ټولنه کې د غير رسمي عدالت په اساس اکثره منازغات او مسائل حل شوي او حل کيږي؛ همدارنګه زما د ليکني موضوع هم د غير رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حلارې ده؛ نو له همدې امله په غير رسمي عدالت پوهېدل يو ضروري عمل دی؛ بناءً په دې فصل کې به د غير رسمي عدالت په پېژنده، د غير رسمي عدالت په چوکاټ کې هغه کارونه چې د خلکو ترمنځ منازعات او اختلافات پرې حل کيږي او نور اړوند موضوعات په تفصيل سره تر بحث لاندې ونيسو او په دويم څپرکي کې به د غير رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حل لارې او نور اړوند موضوعات په تفصيل سره تر بحث لاندې ونيول شي.

### لومړی مبحث: د غير رسمي عدالت پېژندنه

غير رسمي عدالت له هغه عدالت څخه عبارت دی: چې د قوانينو او قضايي سيستم څخه بهر د مصالحې، منځګړېتوب، حکميت، جرګو او مرکو په بڼه د خلکو ترمنځ اختلافات اومنازعات حل او فصل کوي.

يا په بل عبارت: غير رسمي عدالت له هغه عدالت څخه عبارت دی، چې د کلتوري، ټولنيزو او غير دولتي ټولنو او خلکو لخوا ترسره کيږي.

### دوهم مبحث: د غير رسمي عدالت په نومس هغه کارونه چې منازغات پرې حل کيږي او حل شوي:

په غير رسمي عدالت پورې اړونده هغه کارونه چې د خلکو ترمنځ منازغات او لانجې پرې حل شوي او حل کيږي؛ په عمومي ډول په لاندې څلورو برخو ويشل شوي:

۱ـ منځګړېتوب

۲ـ مصالحه

۳ـ حکميت

۴ـ جرګې او مرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ښه وضاحت لپاره هره یوه موضوع په تفیصل سره په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو:

## اول پراګراف: منځګړېتوب

منځګړېتوب د غیر رسمي عدالت یوه مهمه برخه ده، چې د خلکو ترمنځ ډېر مسایل او منازعات پرې حل کېږي؛ لهذا په دې پراګراف کې به د منځګړیتوب پېژندنه، د منځګړېتوب پروسې لومړي توبونه، د منځګړي په ځانګړتیاوو او په هغو مواردو کې چې منځګړېتوب پکې ترسره کېږي او نور اړوند موضوعات تر بحث لاندې ونیسو:

### لومړی جز: د منځګړېتوب پېژندنه

منځګړېتوب له هغه عملیې څخه عبارت دی، چې د هغې پر بنسټ منځګړي د اړخونو د غوښتنې او توافق په اساس د بېلا بېلو شخړو د چټک او عادلانه حل او فصل په منظور بې پلوه خدمتونه سرته رسوي.

منځګړېتوب د منازغې د خواوو سره د مرستې لپاره د منازغې د حل د مناسبو او عادلانه لارو چارو پیداکول دي، ترڅو د منازغې ښکېلې خواوې په خپل منځ کې یو توافق او جوړښت ته ورسېږي. په هغه صورت کې چې توافق رامنځ ته شي، نو د توافق محتوی د منازغې د اړخونو په واسطه تاکل کېږي، نه دا چې هغه فیصله چې د منځګړي ثالث شخص په واسطه کېږي، د منازغې اړخونه یې ومني.

منځګړېتوب عبارت له هغه کوښښ او هڅې څخه دی، چې د طرفینو ترمنځ د منازغې د حل کولو په موخه د ثالث بې طرفه شخص په واسطه ترسره کېږي، تر څو د منازغې خواوې د منازغې د حل لپاره یو توافق ته ورسېږي.

منځګړېتوب د مصالحې او صلحې یوه پروسه ده، چې د دواړو خواوو په پوهاوي سره ترسره کېږي او دواړه خواوو پورې تړاو لري.

د منازغې خواوې باید منځګړي ته د یو بې طرفه شخص په توګه وګوري، ځکه په منځګړېتوب کې د منځګړي او ثالث بې طرفه شخص څخه استفاده کېږي او منځګړی جانبینو سره توافق ته د رسېدو لپاره مرسته کوي.

په ځانګړي ډول منځګړېتوب هغه مهال د استفادې وړ ګرځي، کله چې د منازغې لورو ترمنځ مستقیم مذاکرات د ناکامۍ سره مخامخ شي.

په اکثره قضایاوو کې منځګړېتوب یو غیر رسمي پروسه ده، چې هدف یې د منازغې خواوو یو توافق ته د رسېدلو په اړه مرسته کول دي.

### دویم جز: د منځګړېتوب د پروسې لومړېتوبونه

د منځګړېتوب په پروسه کې لاندې لومړېتوبونه شتون لري، چې منځګړی باید نوموړو لومړېتوبونو ته پوره پاملرنه وکړي:

۱ـ د منازغې د اړخونو ترمنځ د خبرو اترو لپاره د اسانتیا برابرول.

۲ـ د منازغې اړخونو د منافعو څخه حمایت کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ د طرفینو د منافعو نمایندګي کول.

۴ـ د منازغې دواړو خواوو ته د یو عملي او دایمي مناسبې عادلانه حل لارې د پیداکولو لپاره لارښوونه اورهنمایي کول.

## درېیم جز: د منځګړي زده کړې

د منځګړیتوب لپاره په ملي او بین المللي سطحه کوم داسې واحد ارګان او اداره نشته، چې منځګړي ته د قانون، ټولنیزو علومو، تجارت، ادبیاتو، فلسفې او هنر په اړه ښوونه او روزنه ورکړي او نه هم تر اوسه پورې هیڅ ډول معیارونه په ملي او بین المللي سطحه وضعه شوي، چې د منځګړي د پوهې او علمي سطحې اندازه پرې معلومه شي او یا ورته د زده کړې یو معلوم وټاکل شي، خو که عملاً ولیدل شي؛ زمونږ په ګران هېواد کې ځینې خلک چې د ځینو مسایلو لپاره په عرفي شکل یا خصوصاً په اطرافو او کلېوالو علاقو کې ډېر با تجربه مخور مشران شته، چې تعلیم یې نه وي کړی؛ مګر که د چا ترمنځ یې یوې مسئلې کې مداخله وکړه، او یا ورته وسپارل شوه، په ډېره احسنه طریقه یې حل کوي؛ نسبت هغه چا ته چې تعلیم یې ډېر زیات وي او لوړو پوستونو کې کار هم کوي، خلاصه دا چې په منځګړېتوب کې ډېرعلم ته ضرروت نه لیدل کېږي او یا یې کچه معلومول هم اسان کار نه دی، بلکې په منځګړېتوب کې دومره مهمه ده؛ چې منځګړی باید دومره علم ولري، چې د حلالو او حرامو، روا او ناروا، حق او ناحق ترمنځ توپیر وکړي؛ همدانګه په منځګړېتوب کې مهمه ده، چې منځګړی تجربه ولري او د خلکو ترمنځ د اختلافاتو او منازغاتو په حل کولو کې ډېره سابقه ولري، تر څو په اسانۍ سره د خواوو ترمنځ منازغې په احنسه طریقه حل کړي.

## څلورم جز:منځګړېتوب په عمومي ډول په لاندې موضوعاتو کې ترسره کېږي

هغه موضوعات چې منځګړېتوب پکې ترسره کېږي، ډېر زیات دي، چې مونږ یوازې د یو څو څخه د نمونې په توګه په لاندې ډول یادونه کوو:

۱ـ د کورنیو موضوعاتو اړوند منازغات.

۲ـ د ازدواج څخه وړاندې د خواوو ترمنځ توافق.

۳ـ د والدینو او اولادونو ترمنځ خپلمنځي اختلافات.

۴ـ د ملکیتونو په سر منازغات.

۵ـ په خرید او فروش کې د بایع او مشتري ترمنځ اختلافات.

۶ـ د خپلوانو ترمنځ ځېنې کورنۍ ستونزې او مشکلات.

۷ـ د هر ډول قرارداد څخه راپیدا شوي منازغات.

۸ـ د افرادو ترمنځ د جنګونو له امله د زخمونو او رسیدلي زیان په سر موضوعات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم جز: د منځګړي ځانګړتیاوې

دا چې د منځګړي اساسي او مهمه کړنه د منازغي اړخونو لپاره یوه داسي مناسبه، بې طرفه او احسنه حل لاره پیدا کول دي، چې د دواړو خواوو منافع پکي خوندي وي، د دې لپاره ضروري دي، چې منځګړی ځېنې ځانګړتیاوې ولري، چې یو څو یې مونږ په لاندې ډول تر بحث لاندې نېسو:

۱ـ د منځګړي پاملرنه یوازې د منازغي اړخونو ته وي، چې خپل سلوک او رویې له مخې هڅه کوي، چې طرفین روغې جوړې ته اړ کړي.

۲ـ منځګړی د منازغي دواړو خواوو احساساتو ته احترام لري؛ یعني دواړه خواوې یو شان حیثیت ورته لري؛ او کوم توپیر پکې نه کوي.

۳ـ منځګړی د خبرو په جریان، د موضوع په تحلیل او معلوماتو په راټولو کې مهمې نقطې په نظر کې نېسي او تل هڅه کوي، چې د ستونزې اصلي لامل تشخیص او حل لار ورته پیدا کړي.

۴ـ منځګړی بې طرفه او عادل شخص وي.

۵ـ منځګړی د منازغاتو په حل کولو کې ډېره تجربه لري.

## دویم پراګراف: مصالحه

په افغاني ټولنه کې صلحه او مصالحه د غیر رسمي عدالت یو مهم عمل دی، چې د خلکو ترمنځ ډېر مسایل پرې حل کېږي او حل شوي، حتی د صلحې په واسطه هغه منازعات او مسایل هم حل شوي، چې قضاء ترې نه عاجزه شوې؛ په دې معنی چې د منازغي اړخونو قضایي فیصلو ته غاړه نه ده ایښې، مګر د صلحې له لارې د هغوی ترمنځ قضایاوې او منازغې حل شوي. دا چې صلحه او مصالحه د خلکو ترمنځ د منازغاتو په حل کې د غیر رسمي عدالت په بڼه ډېر رول لري، لهذا په دې پراګراف کې به د صلحې او مصالحې پېژندنه، د مصالحې اهمیت، د مصلحینو اوصافو او نور اړوند موضوعات تر بحث لاندې ونېول شي.

## لومړی جز: د مصالحې پېژندنه

مصالحه د غیر رسمي عدالت هغه حالت ته وایي، چې اشخاص د خپلو ذات البیني اختلافاتو او منازغاتو د رفعه کولو لپاره قضایي ادارو ته د مراجعې څخه مخکې یا قضاء ته د مراجعه کولو پر مهال او یا هم د محکمې په جریان کې د حکم د صادرېدو څخه وړاندې په خپل منځ کې توافق وکړي؛ چې خپله منازغه د سوله ایزې او صلح امیزې لارې حل او فصل کړي.

یا په بل عبارت: صلحه عبارت ده د منازغې د ختمولو لپاره د طرفینو د توافق څخه چې په خپل رضایت یې کړي وي.

صلحه په هغو منازغاتو کې چې بالفعل د افرادو ترمنځ رامنځته کېږي؛ د دواړو خواوو د منازغې د حل لپاره د دې پر ځای چې محکمې ته مراجعه وکړي، په خپله خوښه توافق کوي، چې ستونزه د صلحې له لارې حل او فصل کړي او په دې ترتیب د منازغې یو طرف د هغه څه په بدل کې چې د مقابل طرف یا جانب څخه یې ترلاسه کوي، د خپلو ځینو حقوقو څخه تنازل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصلح د منازعاتو په حل کي مستقيم رول او اثر لري؛ حتی د منازغي خواوو ته د حل لپاره مشخصي لارې وړاندې کوي، په مصالحه کي بې طرفه شخص معمولاً د يو باصلاحيته شخص په حيث چې د منازغې هر اړخيز مسؤليت سنجوي، د طرفينو لپاره د حل تر ټولو ښه او غوره لاره پيدا کوي.

## دويم جز: د صلحې اهميت

صلحه په اسلامي شريعت کي لوړ مقام او ارزښت لري؛ الله جل جلاله صلحې ته خير ويلی دی؛ الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايلي:

(والصلح خير). (النساء: ۱۲)

ژباړه: صلح کې خېر دی.

همدا راز د خلفاوو په دور کې خصوصاً د عمر فاروق رضی الله عنه په دور کې عمر بن الخطاب د خپل خلافت پر مهال هغه وخت چې موسی اشعري ته د قضاوت کولو لپاره دستور ورکاوه، نو صلحه او حکميت يې پکې مشورع ګڼلی وو، مګر هغه صلحه نه، چې حلال حرام او حرام حلال کړي.

همدارنګه د مجلة الاحکام په (۱۵۳۹)، (۱۵۴۵) او (۱۵۴۶) مادو کې د صلحې د عقد شرايط د طرفينو او د صلحې د موضوع د څرنګوالي او معلوموالي په هکله دي.

## درېيم جز: د مصلحينو اوصاف

مصلحين يا صلحه کوونکي ډېر اوصاف لري، چې مصلح يې بايد ولري، چې يو څو يې په لاندې ډول ذکر کوو:

**۱- علم او پوه ولري:**

مصلح بايد علم او پوهه ولري، چې د حق او باطل فرق او تميز پرې وکړي، تر څو خپله فيصله په درست او صحيح ډول ترسره کړي.

**۲- د مهارت او فن خاوند وي:**

مصلح بايد د موضوعاتو په حل کي ځانګړي فن او مهارت ولري، ټول هغه رسم او رواجونه وپېژني، کوم چې د ټولنې د افرادو ترمنځ رايج وي، تر څو د مصالحې چارې په سم او دورست ډول ترسره کړي.

**۳- کافي تجربه لرونکی وي:**

مصلح بايد د مصالحې او روغې جوړې کافي تجربه ولري، تر څو منازغات په ښه ډول حل کړي او په اسانۍ سره وکولای شي، چې د دواړو خواوو ترمنځ منازغې ته د پای ټکی کيږدي.

**۴- مصلح بايد عادل وي:**

مصلح بايد عادل وي، د منازغې د لورو ترمنځ بايد کوم فرق ونه کړي، الله جل جلاله خاظر او ناظر وګڼي او لورو ترمنځ منازعه په پوره بې طرفتوب او عدل سره حل او فصل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېیم پراګراف: حکمیت

دا چې حکمیت د منازغاتو په حل کې د غیر رسمي عدالت په توګه ډېر رول لري، لهذا په دې پراګراف که به د حکمیت پېژندنه، د حکمیت مشروعیت، د منازغې د حل لپاره د حکم ټاکل او نور اړوند موضوعات تربحث لاندې ونېول شي.

## لومړی جز: د حکمیت پېژندنه

حکمیت په لغت کې یوه عربي کلمه ده، چې د حکم څخه اخېستل شوې ده، چې د حکم او قضاوت کوونکي په معنا دی او په اصطلاح کې حکمیت عبارت دی: د منازعې د راجع کولو څخه، د منازغې د خواوو په واسطه یا د هغوی په تفویض سره او یا هم د هغوی د شرایطو مطابق چې ټاکل کېږي، یو یا څو حکمو ته، تر څو منازغه د نهایي قرار د صادرولو په اساس چې د منازغې خواوو ته قطعي وي، حل او فصل کړي.

حکمیت د منازغې د حل له هغه ډول څخه عبارت دی؛ چې د محکمې څخه خارج د منازغې طرفین ثالث بې طرفه شخص په وړاندې صورت نیسي.

## دویم جز: د منازغې د حل لپاره د حکم ټاکل

دا چې حکمیت د لانجو او شخړو په حل او فصل کې ډېر رول لري، نو له همدې امله د منازعې خواوې په مختلفو وختونو کې د خپلو منازعاتو د ښه حل لپاره حکم تعینوي، یا د دعوې طرفین د خپلې معاملې په ابتداء کې د خصوصي عقد په انعقاد سره او یا هم د بېل عقد په ترسره کولو سره حکم او حکمین د خپلو احتمالي راتلونکو اختلافاتو د رفعه کولو لپاره تعینوي او یا کېدای شي؛ په محکمه کې د دعوې د جریان پر مهال تر هغې چې فیصله نه وي صادره شوې، د دعوې د حل لپاره د یو یا څو تنو حکمو په ټاکلو باندې موافقې ته رسیږي، تر څو د هغوی ترمنځ موجوده اختلافات حل او فصل کړي.

## درېیم جز: د حکمیت د موافقتنامې اصول

د حکمیت موافقتنامه باید لاندې اصول استواره وي:

۱ـ د حکمیت موافقتنامه به د داسې حقیقي یا حکمي اشخاصو ترمنځ صورت نیسي، چې په خپلو حقوقي تصرفاتو کې د داسې حق څخه برخمن وي.

۲ـ د حکمیت موافقه باید داسې مسایلو ته راجع وي، چې په هغه مسایلو کې صلحه جایزه وي.

۳ـ د حکمیت موافقه باید د طرفینو ترمنځ په کتبي او لیکلي ډول صورت ونېسي.

## څلورم جز: د حکمیت مشروعیت

فقهاء د حکمیت د مشروعیت په اړه بېلا بېل نظرونه لري، چې مونږ یوازې د احنافو علماوو نظر په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نېسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوله فقره: د حکمیت مشروعیت د احنافو علماوو له نظره:

زمونږ په حنفي مذهب کې حکمیت ته جواز ورکړل شوی دی، ځکه احناف په دې عقیده وو، چې حکمیت په قرانکریم کې هم ثابت دی، لکه: چې الله جل جلاله په قرانکریم کې فرمایلي دي:

[وان خفتم شقاق بینهما فابعثوا حکما من أهله وحکما من أهلها ان یریدا اصلاحا یوفق الله بینهما ان الله کان علیما خبیرا]. (النساء: ۳۵)

ژباړه: او که تاسي د میړه او میرمنې د اړیکو د خرابیدو په باب اندیښمن یاست؛ نو یو منځګړی د میړه له خپلوانو څخه او یو د میرمنې له خپلوانو څخه وټاکئ؛ که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله تعالی به د هغو دواړو ترمنځ د توافق لاره برابره کړي، الله تعالی په هر څه پوه او با خبره دی.

نو له پورتني آیت څخه د حکمیت موضوع ثابته او جایز ده.

په حدیث، اجماع او قیاس کې هم د دې جواز ثابت دی او حنفي علماوو دې ته جواز ورکړی دی، ځکه ډېر موضوعات له دې لارې نه حل کېدای شي او حل شوي هم دي.

او د دې دلیل دا دی، چې په ټولنه کې ډېر ضرورتونه شته او حکمیت کولای شي، دغه مسئله په ډېره ښه توګه حل او فصل کړي؛ همدارنګه د دې ګټه دا هم ده؛ چې محاکمو ته مراجعه کول هم کمېږي او خلک په اسانه طریقه د حکمیت له لارې خپل مسایل حل کولای شي. کوم مسایل چې د حکمیت له لارې حل کېږي، نسبت قضاء ته په کې پیچده ګي لږه لېدل کېږي.

## پنځم جز: په اسلامي شریعت کې د حکم او حکمیت شرطونه

په اسلامي شریعت کې چې د حکم او حکمیت لپاره کوم شرطونه ټاکل شوي، په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نېسو:

۱ـ هغه شرطونه چې د قاضي لپاره ټاکل شوي، د حکم لپاره هم ټاکل شوي دي؛ لکه: حکم به نارینه، ازاد، مجتهد، د سالمو حواسو لرونکی او د کامل اهلیت درلودونکی وي، که څه هم د حکمیت درجه د قضاوت او قاضي څخه کمه ده، مګر د قاضي په منزلت کې شمېرل کېږي، نو ټول هغه اوصاف چې د قاضي لپاره شرط دي؛ د حکم لپاره هم شرط دی؛ یعني حکم او مصلح باید د قضاء او شهادت اداء کولو اهلیت ولري.

۲ـ د حکم او مصلح پریکړه باید معلومه وي.

۳ـ مصلح او حکم باید کافر نه وي، ځکه پر مسلمان د کافر حکمیت نشته.

۴ـ د حکم یا مصلح او د منازعه کوونکو ترمنځ به داسې قرابت موجود نه وي، چې د شهادت د اداء کولو مانع شي.

## څلورم پراګراف: جرګې او مرکې

جرګې د غیر رسمي عدالت یو مهم ډول دی، چې د خلکو ترمنځ د منازغاتو په حل کې ډېر رول لري؛ چې په دې مبحث کې به د جرګو او مرکو پیژنده، د جرګو ډولونه او نور اړوند موضوعات په تفصیل سره تر بحث لاندې ونېسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړۍ جز: د جرګو او مرکو پېژنده

جرګه په لغات کې د اجتماع، ټولنې او مجلس په معنا باندې تعبيرېږي او په اصطلاح کې جرګه په عمومي ډول له هغه اجتماع څخه عبارت دی، چې د محلو، قومونو او قبايلو له باتجربه مشرانو څخه تشکيل شوي وي، چې د افرادو، کورنيو، قومونو، قبايلو او د هيواد په مهمو مسايلو باندې تصميم نيسي او د افرادو، قومونو او قبايلو ترمنځ منازغې د مرکو له لارې حل او فصل کوي.

اکثره د دوه متخاصمو ډلو، فاميلو او يا قومونو ترمنځ چې کومه شخړه او لانجه رامنځ ته شي، نو د جرګو او مرکو له لارې حل او فصل کېږي، جرګوال او مرکوال تل هڅه کوي، چې موضوع په صلحه اميزه او سوله ايزه لار باندې حل کړي او نورو خلکو ته وخت ورنه کړي؛ چې په موضوع کې سوء استفاده وکړي، او نوره يې هم کړکېچنه کړي، بلکې دا هڅه کوي، چې موضوع ته ښه د حل لاره پيدا کړي؛ تر څو په لږ وخت کې په عاجل ډول سره موضوع بيخ ته ځان ورسوي، او د حل په لاره کې يې ډېر زيار باسي، تر څو مشکلات د جرګو او مرکو له لارې حل کړي؛ جرګوال لومړۍ د هر يوې ډلې سره سلا مشوره کوي؛ بيا ترې نه واک اخلي او بيا وروسته فيصله ورته کوي، او دواړو خواوو ته يې اوروي؛ او د رضايت کوښښ يې کوي.

## دويم جز: جرګې ډولونه

جرګې په افغانستان کې عموماً په لاندې ډولونو ويشل شوي:

### اوله فقره:محلي جرګې

دا جرګې د نورو ټولو جرګو په نسبت محدود تاثير لري، دا جرګې له ډېر پخوا زمانې څخه راپدې خوا په ټول هېواد کې شتون لري او په محلي سطحه يعنې د افرادو او کورنيو ترمنځ اختلافاتو او منازعاتو ته رسيده ګي کوي، دا جرګې د تصميم نيونې څخه وروسته په معمولي ډول له منځه ځي.

### دويمه فقره: قومې جرګې

قومي جرګې د هغو مسايلو په حل او فصل کولو باندې اقدام کوي، چې يو يا څو قومونه په بر کې نيسي، نوموړې جرګې د قومونو د ټکرونو او يا د مهمو مسايلو په سر د اختلافاتو او ټکرونو رامنځ ته کېدو په صورت کې ګډه هڅه کوي، د دې جرګو غړي معمولاً مشران او لويان خلک دي، دا چې جرګې هم له تصميم نيونې وروسته په معمولي ډول له منځه ځي.

### درېيمه فقره: لويې جرګې

دا جرګې د هېواد د ټولو قومونو له استازو څخه تشکيل کېږي، چې نوموړې جرګې د هېواد په مهمو مسايلو تصميم نيسي، چې لومړۍ لويه جرګه په (۱۱۶۰) ه ش کال کې د شير سرخ په مزار کې ترسره شوه او له نهه ورځو وروسته يې لوی احمدشاه بابا د افغانستان د بادشاه په توګه وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حل لارې او د غیر رسمي عدالت ګټې او زیانونه

دا چې په افغانی ټولنه بالخصوص په لغمان کې د خلکو ترمنځ اکثره منازعات رسمي عدالت ته د لاسرسی باوجود د غیر رسمي عدالت له لارې حل او فصل کېږي، خو بیا هم د غیر رسمي عدالت پر وړاندې یو شمېر ستونزې او خنډونه موجودې دي، چې په اوسني وخت کې یې ټولنه یې د غیررسمي عدالت په اړه اندېښمنه کړې ده او غیر رسمي عدالت پر وړاندې د شته ستونزو لپاره د یوې مناسبې او احنسي حل لارې پیدا کول ډېر اړین دي. همدارنګه غیر رسمي عدالت ډېرې ګټې او ځېنې زیانونه لري؛ بناءً مونږ د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې او حل لارې او د غیر رسمي عدالت ګټې او زیانونه په څلورو جلا جلا مبحثونو کې په تفصیل سره په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو:

## لومړی مبحث: د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتې ستونزې

دا چې د غیر رسمي عدالت په ذریعه په ډېر احسني، اساني، اقتصادي او ښې طریقې سره د خلکو ترمنځ منازعات حل او فصل کېږي، خو بیا هم ګڼ شمېر ستونزې لري، چې ځېنې یې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو:

۱- د اړتیا وړ د دیني او عصري زده کړو نشتون: دا چې زمونږ په ټولنه کې غیر رسمي عدالت اکثره د هغو خلکو لخوا ترسره کېږي، چې یا یې بلکل زده کړې نه وي کړي او یا یې کمې زده کړې کړي وي، چې د خلکو ترمنځ منازعات په هغه ډول چې د اسلامي شریعت، عدالت او انسانیت غوښتنه ده، نشي حل کولای؛ چې ذکر شوې ستونزه د غیر رسمي عدالت څخه د خلکو د زړه توری او مخ اړولو، د الله جل جلاله د خپګان لامل کېدای شي؛ ځکه چې زموږ په ټولنه کې د غیر رسمي عدالت په چوکاټ کې ډېرې داسې غیر رسمي فیصلې شوي، چې د علم او پوهې د نشتون او یا د کمې پوهې له وجې حق او ناحق، روا او ناروا ته پکې نه دي کتل شوي، د مثال په ډول: په بدو کې د جرګو او مرکو، مصالحې او منځګړېتوب له لارې د قاتل د کورنۍ لخوا د مقتول کورنې ته په بدو کې د لور او خور ورکول؛ چې دا عمل د اسلامي شریعت او عدالت خلاف کار دی.

۲- قومي او نژادي تعصباتو پالل: زمونږ په ټولنه کې اکثره هغه منازغات چې د قومونو ترمنځ رامنځ شوي دي او رامنځ ته کېږي؛ اکثره د غیر رسمي عدالت له لارې حل او فصل کېږي، خو بیا هم کله کله په ذکر شویو منازعاتو کې جرګوال، مصلحین او منځګړي په تعصباتو کې ښکېل کېږي؛ هر یو کوښښ کوي، چې د خپل قوم په ګټه منازعه حل کړي او یوازې د خپل قوم او کلي مصالح او ګټې په نظر کې نیسي.

۳- خپل ګټې په نظر کې نیول: زموږ په ټولنه کې ځېنې مصلحین، جرګوال او منځګړي د لورو ترمنځ په منازغه کې خپل اعراض او شخصي ګټې لټوي؛ که د لورو ترمنځ د منازعې په حل کې یې کومه شخصي ګټه نه وي، په حل کولو کې یې دومره کوښښ نه کوي، څومره چې مناسبه او ضروري ده.

۴- د اقتصادي، سیاسي او نسبي موقف په نظر کې نیول: د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي(منځګړي، مصلحین، جرګوال او مرکوال) د هغو خلکو ترمنځ منازعاتو کې چې اقتصادي، سیاسي او نسبي موقفونه یې ښکته او پورته وي؛ اکثره وخت د بېلا بېلو لاملونو له وجې د لوړو موقفونو درلودونکي په طرف زور کوي او لوړو موقفونو درلودونکو څخه متاثره او اغیزمن کېږي؛ یعنې کله کله د منازغې د یو جانب ښه اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعیت، ښه سیاسي وضعیت او ښه نسبي وضعیت د دې لامل کېږي؛ چې مصلحین، جرګوال او منځګړي د منازغاتو په حل کې یو طرفه عدالت ته سوق کړي او په صلحه کې د دواړو جانبینو د مصالحو او ګټو د خوندیتوب پر ځای د یو جانب ګټو ته پام وکړي.

۵ـ الزامي جنبه نه درلودل: دا چې غیر رسمي عدالت په عمومي ډول غیر الزامي جنبه لري؛ یعنې د مصلحینو، منځګړیو، جرګوالو او مرکوالو اصلاحي فیصلې او عدالت غیر الزامي جنبه لري؛ په دې معنا چې د اجرا قوي تضمین او د تطبیق قوي مرجع یې نشته؛ په همدې اساس په دې برخه کې زورور خلک غیر رسمي عدالت او اصلاحي فیصلو پر وړاندې سرکشي کوي او په کمزورو خلکو ظلم او زیاتی کوي؛ یعنې داسې مرجع نشته، چې د غیر رسمي عدالت په جبري ډول تطبیق کړي.

۶ـ د اخلاص عدم موجودیت: د غیر رسمي عدالت اړوند په ځینو موضوعاتو کې ځینې منځګړي، مصلحین او جرګوال په هغه ډول چې لازمه ده؛ د اخلاص څخه کار نه اخلي؛ ځکه چې دوی فکر کوي؛ ما ته یې کومه ګټه نه رسېږي، نه یې کوم معاش راته ټاکلی؛ که موضوع یې خلاصه شوه او که خلاصه نه شوه؛ زه یې کوم مسؤلیت نه لرم.

## دویم مبحث: د غیر رسمي عدالت پر وړاندې د پرتو ستونزو حل لارې

لکه څرنګه چې وړاندې ذکر شول، زمونږ په ټولنه کې غیر رسمي عدالت د خلکو ترمنځ منازعات په ډېرو احسنو او اسانې لارو سره حل کوي؛ خو د دې باوجود غیر رسمي عدالت یو شمېر ستونزې هم لري؛ چې د ځینو څخه مو په تېر مبحث کې یادونه وکړه؛ لهذا د موضوع تسلسل ته په پام سره په دې مبحث کې د غیر رسمي عدالت پر وړاندې د پرتو ستونزو په ځینو حل لارو باندې په تفصیل سره په لاندې ډول بحث کوو:

۱ـ **د زده کړو او پوهې درلودل**: منځګړي، مصلحین، مرکوال او جرګوال باید حد اقل دومره علم ولري؛ چې د حق او ناحق، روا او ناروا تر منځ پرې توپیر وکړي او د خلکو ترمنځ منازعات په داسې شکل حل کړي، چې حق په مشروع او روا طریقه حقدار ته ورسېږي او د دواړو خواوو منافعو خوندېتوب ته پکې پاملرنه وکړي؛ تر څو د الله جل جلاله رضاء حاصله کړي.

۲ـ **د قومي او نژادي تعصباتو نه پالل**: کله چې مصلحین، منځګړي، مرکوال او جرګوال په یوې موضوع کې مداخله وکړي؛ یا د منازغې د اړخونو له لورې د دوی ترمنځ د رامنځ ته شوې منازغې د حل لپاره وټاکل شي؛ باید د منازغې اړخونه ته ونه ګوري، چې منازغه د چا ترمنځ رامنځ ته شوې؛ یعنې خپل دی که پردی، غریب دی که مالدار، خپل قوم واله دی او که د بل قوم...؛ بلکې دوی باید د دواړو جانبینو منافعو په خونېتوب او د ستونزې په حل باندې تمرکز وکړي؛ تر څو منازغه په داسې ډول حل کړي، چې د خلکو او خدای جل جلاله رضاء حاصله کړي.

۳ـ **د اخلاص موجودیت:** دا چې د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي عموماً کوم معلوم معاش نه لري؛ بلکې د بېلا بېلو لاملو له وجې د خلکو ترمنځ منازعات پرته له کومې اجورې حل او فصل کوي؛ خو بیا هم ځینې منځګړي، مصلحین او جرګوال د خلات په نوم غیر مشروع پیسې د منازغې د اړخونو څخه اخلي او د هغوی په بدل کې د دوی ترمنځ منازعات حل او فصل کوي؛ بناءً دوی باید د خلکو ترمنځ منازعات او اختلافات د انسانیت او د الله جل جلاله د رضاء په خاطر حل کړي؛ د خلات په نوم غیر مشروع پیسې له اخېستلو څخه ډډه وکړي، ځکه چې په دې عمل سره الله جل جلاله او خلک خفه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ **تجربه درلودل:** د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي باید باتجربه او مهارت لرونکي اشخاص وي؛ ځکه چې د خلکو ترمنځ اکثره داسې منازعات رامنځ ته کېږي؛ چې د بې تجربه اشخاصو ذهن د هغوی حل ته نه رسیږي، که څه هم چې علم ولري؛ بناءً د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي باید باتجربه اشخاص وي؛ تر څو د خلکو ترمنځ مشکیل او اختلافات د خپلو تجربو په رڼا کې په ډېرې ښې طریقې سره حل کړي.

۵ـ **د رسمي عدالت په مراجعو کې باید د غیر رسمي عدالت فیصلو ته اعتبار ورکړل شي:** دا چې زموږ په ټولنه کې غیر رسمي عدالت د رسمي عدالت په پرتله ډېرو منازعاتو ته رسیده ګي کوي. بناءً د رسمي عدالت په مراجعو کې باید د غیر رسمي عدالت هغه فیصلو ته چې شرعي نواقص ونه لري؛ احترام وشي او اعتبار ورکړل شي؛ تر څو د خلکو ترمنځ موضوعات په سرعت او تېزۍ سره حل او فصل شي.

۶ـ **د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي باید د چا د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او نسبي وضعیت څخه اغیزمن او متاثره نشي؛** بلکې باید الله جل جلاله حاضر او ناظر وګڼي او د خلکو ترمنځ پرته له هر ډول توپیر څخه منارعات حل او فصل کړي.

۷ـ **د غیر رسمي عدالت ترسره کوونکي باید د چا د منازعاتو په حل کې خپل شخصي اعراض ونه لټوي؛** بلکې د خپل وجداني او ټولنیز مسؤلیت له مخې باید د خلکو ترمنځ اختلافات پرته له کومې طمعې او توقع څخه حل کړي او ثمره یې د الله جل جلاله څخه وغواړي.

## دریم مبحث: دغیر رسمي عدالت ګټې

غیر رسمي عدالت ډېرې ګټې لري، چې د موږ د موضوع د طولاني کېدو څخه د مخنیوي په خاطر د یو څو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

۱ـ **د وخت له حیثه:** غیر رسمي عدالت یوه ګټه دا ده؛ چې په کم او لږ وخت د خلکو ترمنځ منازعات حل او فصل کوي، په دې معنا کومه منازعه چې د رسمي عدالت په اساس حل او فصل کېږي؛ هغه منازعه د غیر رسمي عدالت په اساس د رسمي عدالت په پرتله په ډېر کم وخت کې حل کوي، مطلب په غیر رسمي عدالت کې کاغذ پراني نشته.

۲ـ **د لګښت له حیثه:** د غیر رسمي عدالت په اساس ډېر خلک ځکه خپلمنځي اختلافاتو او منازعاتو حل کولو ته زړه ښه کوي؛ چې مصارف او لګښتونه پرې نه کېږي؛ مطلب د رسمي عدالت په پرتله غیر رسمي عدالت مصارفو ته اړتیا نه لري؛ ځکه چې په غیر رسمي عدالت کې د رسمي عدالت په شان اوږد او طولاني پروسیجر، عارضې، صورت دعوې، دفع دعوې او نورو هغو شیانو ته ضرورت نشته، چې مصرف پرې کېږي.

۳ـ **د عدم تکلیف له حیثه:** په غیر رسمي عدالت کې د منازعې لورې په ډېر کم تکلیف سره د حل لارې ته رسیږي؛ د رسمي عدالت په شان پابندي، انتظار، د سختو خبرو اورېدل او له نورو تکلیف کوونکي مواردو څخه په امان وي.

## څلورم مبحث: د غیر رسمي عدالت زیانونه

د غیر رسمي عدالت زیانونه د غیر رسمي عدالت پر وړاندې پرتو ستونزو څخه سرچینه اخلي؛ یعني د غیر رسمي عدالت کومې ستونزې چې پورته ذکر شوي؛ ذکر شوې ستونزې د غیر رسمي عدالت زیانونه هم دي: د مثال په ډول: عدم تعلیم او عدم مسلکي والي له حیثه: دا چې زموږ په ټولنه کې غیر رسمي عدالت اکثره د هغو خلکو لخوا ترسره کېږي، چې تعلیم ونه لري او یا تعلیم ولري خو مسلکي نه وي؛ چې په پایله کې د خلکو ترمنځ یو داسې فیصله او روغه جوړه وکړي، چې د عمومي اصولو او شریعت خلاف وي؛ لکه: په بدو کې د خور او لور ورکول .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

قرانکریم.

1. احادیث.
2. الکوزی، پوهنوال دوکتورعبیدالرحمن؛ شمس صافی، پوهندوی شمس الاسلام، تعاملي حقوق؛ چاپ وار،دویم، خپرندویه ټولنه: جلال اباد افغانستان.
3. له علماوو سره مرکې.
4. د مخورو سپین ګېرو او قومي مشرانو سره مرکې.
5. زماني؛پوهنمل محمد یوسف؛ تعاملي حقوق.
6. اخندزاده؛ پوهنمل عبیدالله؛ نړیوال عمومي حقوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال لنډه پېژندنه

زبیر اسحاقزی د محمد اسحاق زوی چې د په ننګرهار ولایت کې په یوه علم پروره کورني کې په۱۳۷۹ هـ،ش کال کې د سرخرود والسوالي په چهار باغ کلی کې زیږیدلي دي.

نوموړو په ۱۳۸۴ه-،ش کال کې په همدې کلی کې په چهار باغ صفاء عالی لیسه کې خپل لومړني زده کړی شروع کړه نوموړی په عالی درجه په ۱۳۹۶ هـ،ش کال کې د د نوموړی ښوونځی څخه فارغ شو او په همدې کال د کانکور د ازمویني له لارې ننګرهار پوهنتون دحقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ته په لوړو نمرو کامیاب شو او په ۱۴۰۱کال کې د نوموړی پوهنځی څخه په عالي درجه فارغ شو ښاغلی اسحاقزی سره ددې چې یو ښه تکړه او با استعداد لیکوال دی نو د لیکوالی سره،سره د بهرنیو ژبو څخه ژباړی هم کوي لکه:انګلیسي،فارسی،اردو،عربي ژبو باندې پوره اګاه دي،نوموړی ته ددې لیکنې مبارکي وایو او نوموړو ته په راتلوونکې کې په چارو کې بریالیتوب غواړو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**